مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اړينزی

۲۰۲۶/۰۴/۰۴

# افغانستان

## طبيعي، بشري، سياسي، اقتصادي او تاريخي جغرافيه

### درويشتمه‌برخه

۱۰ – بغلان

بغلان د افغانستان په شمال ختيځه برخه کې پروت دی. د کوشانيانو په وخت کې د بغلان د لرغونتوب نښې او اسناد شته. په تواريخو کې د دې ځای پخوانی نوم Baghlango راغلی، چې معبدوله معنی ورکوي او په دويمه ميلادي پيړۍ کې د سرخ کوتل په ډبرليک کې ذکر شوی. د زردشت نامتو اورتون/ اتشکده هم په همدې سيمه کې موقعيت درلود. د اوسني بغلان د شمرق تاريخي اثار ډېرو خېړنو ته اړتيا لري.
دا ولايت پخوا د قطغن او بدخشان د نائب الحکومه ګيو يوه برخه و، چې وروسته بيل ولايت شو.بغلان 22460km پراخوالی او 1150000 (2023) نفوس لري. د بغلان شمال ته تخار، شمال ختيځ ته کندز، جنوب ته پروان، جنوب ختيځ ته پنجشير، او لويديځ ته سمنګان او باميان ولايتونه پراته دي. د هندوکش غرونه د دې ولايت په جنوبي او ختيځو سيکو کې غځېدلي ، چې د اندارب او خنجان د اوبو سرچيني بلل کيږي. د باميان اوبه هم د بغلان د cمکو په خړوبولو کې برخه لري. بغلان د سمندر له سطحې څخه په منځنۍ توګه 1800m لوړ دی؛ خو د قول برسنګ څوکه ان 4540m جګوالی لري.
پخوا د بغلان د اوړي تودوخه د $30C^0$ او 40 تر منځ وه، چې اوس د موسمي بدلونونو په توسن لږ نوره هم لوړه شوی او ژمي صفر او منفي 5- 8 ته ښکته کيږي.

دا ولايت د منځنۍ آسيا د هواء، د امو سيند د لنډبل او د سايبريا د هوايي کتلو څخه اغېزمن کيږي. کلنی ورښت يي په اوارو سيمو کې 200mm – 300 او په خنجان او غرنيو برخو کې 400mm - 600 ته رسي. په دې ولايت کې د برېښنا او سمنټو دوه پخوانۍ فابريکي فعاله دي.

| شمي ر | د ولايت نو م | اداري درجه | مساحت په$km^2$ | ختي ځ طو ل البلد | شمال ي عرض البلد | دسمندرل ه سطحې څخه لوړوالی په m | نفوس |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | بغلان | دوهمه درجه | 18255.2 | 68-00 | 36-34 | 1200 | 1113400 |
| 1 | پلخمري | مرکز | 640 | 68-42 | 35-57 | 650 | 230112 |
| 2 | نوی بغلان | و-1 | 1596 | 68-45 | 36-10 | 550 | |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | دهنه غوري | و- 2 | 1819 | 68-29 | 35-54 | 850 | 72673 |
| 4 | دوشي | و- 2 | 1745 | 68-41 | 35-36 | 900 | 82389 |
| 5 | تاله وبرفك | و- 2 | 2965 | 68-14 | 35-43 | 1200 | 37212 |
| 6 | خنجان | و- 2 | 1004 | 68-59 | 35-36 | 1100 | 37502 |
| 7 | نهرين | و-1 | 1646 | 69-07 | 36-04 | 1150 | 85698 |
| 8 | بورکه | و- 2 | 877 | 69-09 | 36-13 | 1150 | 64869 |
| 9 | اندراب | و- 3 | 2332 | 69-15 | 35-38 | 1500 | 31421 |
| 10 | خوست | و- 2 | 2592 | 69-32 | 36-02 | 1550 | 77755 |
| 11 | ده صلاح | و-3 | | 69-11 | 35-52 | 1500 | 39385 |
| 12 | جلګه | و-3 | | | | 1500 | 29394 |
| 13 | پل حصار | و-3 | | 69-19 | 35-44 | 1500 | 34027 |
| 14 | ګزرګاه نور | و-3 | | 69-24 | 36-22 | 1500 | 12452 |
| 15 | فرنګ و غارو | و-3 | | 69-32 | 36-14 | 1500 | 20416 |

بغلان مرکزی: 219073


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ